## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**11سرطان _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


بریټانیا: محکمي روندا ته د کډوالو استول «غیر قانوني» وبلل---------------------------------------------------------1

بلغاریا: د ګڼو افغانانو په ګډون نږدې ۱۵۰ کډوال نیول شوي ---------------------------------------------------------2

گراندی خواهان تحقیقات بی طرفانه در زمینه واژگونی قایق شد---------------------------------------------------------4

بازداشت یک قاچاقبر مهاجران در شمال فرانسه ------------------------------------------------------------------------6


خبرنامه

# متن کامل اخبار.

## برېتانیا: محکمې روندا ته د کډوالو استول «غیر قانوني» وبلل

مهاجرنیوز




د لندن استیناف محکمې نن پنجشنبه روندا ته د پناه غوښتونکو استول «غیرقانوني» وبلل. د برېتانیا قضایي ادارې ویلي دي چې روندا د کډوالو لپاره خوندي نه ده .

د لندن د استیناف محکمې نن پنجشنبه (د جون ۲۹مه) روندا ته د پناه غوښتونکو استول «غیر قانوني» وبلل.

د درېو قاضیانو له ډلې څخه دوو یې روندا ته د پناه غوښتونکو د استولو پلان رد کړ. محکمې وویل چې روندا د کډوالو لپاره خوندي نه ده ځکه د دغه افریقایي هېواد «د پناه غوښتنې په سیستم کې نیمګړتیاوې» موجودې دي او دا خطر شته چې د روندا چارواکي «کډوال بېرته خپلو هېوادونو ته وشړي.»

قاضیانو ویلي دي چې محکمه دا پلان ردوي «مګر دا چې د پناه غوښتنې پروسیجرونو کې نیمګړتیاوې بشپړې شي.»



Website: https://morr.gov.af
Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

د یادولو ده چې د برېتانیا عالي محکمې د ۲۰۲۲ په دېسمبر میاشت کې روندا ته د کډوالو د استولو پلان «قانوني» بللی او ویلي یې وو چې روندا د کډوالو لپاره خوندي هېواد دی

»موږ دا پرېکړه ردوو«...

په ورته مهال د روندا د حکومت ویاندې یولاند ماکولو د دې پرېکړې په غبرګون کې ویلي دي: «موږ دا پرېکړه ردوو چې وايي ګني روندا د پناه غوښتونکو او کډوالو لپاره خوندي هېواد نه دی. روندا د نړۍ یو له تر ټولو امنو هېوادونو بلل کېږي. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان او نړیوالو سازمانونو له کډوالو سره زموږ غوره چلند په رسمیت پېژندلی«...

څو ورځې وړاندې د برېتانیا حکومت وویل چې روندا ته د یوه پناه غوښتونکي د استولو لګښت نږدې ۲۰۰ زره یورو دی چې برېتانیا کې د پناه غوښتونکي د پاتېدو پرتله ۶۳ زره یورو قیمته تمامېږي.

بیا ولولئ :برېتانیا: روندا ته د یوه پناه غوښتونکي د استولو لګښت نږدی ۲۰۰ زره یورو کېږي

روندا ته د کډوالو استول د برېتانیا پخواني لومړي وزیر بوریس جانسون پروژه وه. د برېتانیا حکومت غوښتل چې له روندا سره د تړون په رڼا کې د ۲۰۲۲ په جون میاشت کې یو شمېر کډوال کیګالي ته واستوي، خو دغه پرواز په وروستیو شېبو کې د اروپا د بشري حقونو محکمې د پرېکړې له مخې لغو شو.

## بلغاریا: د ګڼو افغانانو په ګډون نږدې ۱۵۰ کډوال نیول شوي

مهاجرنیوز




د بلغاریا چارواکي وايي چې د دغه هېواد د پلازمېنې صوفیا په بېلابېلو برخو کې یې نږدې ۱۵۰ کډوال نیولي دي. په نیول شویو کې ګڼ شمېر افغانان هم دي .

د بلغاریا چارواکي وايي چې په تېرو دوو ورځو کې یې ۱۴۶ اسناد نه لرونکي کډوال نیولي دي. د بلغاریا خبري اژانس د خبر له مخې، د دغه هېواد امنیتي ځواکونو پرون چهارشنبه (د جون ۲۸مه) صوفیا ته نږدې د تراکیا پر لویه لاره په یوه لارۍ موټر کې ۴۰ تنه کډوال موندلي چې ټول افغانان دي. د لارۍ چلوونکی چې د بلغاریا تبعه دی هم نیول شوی دی.

همداشان په همدغه ورځ د صوفیا په نووي اسکار سیمه کې ۲۳ افغان او مراکشي نیول شوي چې په ډله کې یې دوه ښځې هم دي. پولیسو همداراز د صوفیا په ګرنا بانیا سیمه کې د ۳۷ سوریایي کډوالو د نیولو خبر ورکړی دی. د دواړو پېښنو په اړه پلټنې رواني دي.

د یو بل خبر له مخې، د بلغاریا پولیسو د تېرې سه شنبې په ورځ پلازمېنې صوفیا ته نږدې په کوکالیان کلي کې په یو کور کې د کډوالو یوه ۴۶ کسیزه ډله ونیوله چې د مراکش، پاکستان او سوریې اتباع دي.

دا لومړی ځل نه دی چې د بلغاریا چارواکي د بې سنده کډوالو د نیولو خبر ورکوي. پولیسو د تېرې شنبې په شپه د سوزوپول او بورګاس پر لاره په یوه لارۍ موټر کې ۷۲ کډوال موندلي وو چې ځانونه یې افغانان بلل. همدارنګه د جون د میاشتې په ۱۴مه د مریتسا پر لویه لاره یوه موټر کې اته افغان کډوال موندل شوي وو.

هر کال د افغانانو په ګډون زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې له ترکیې څخه د بلغاریا پر لار ځانونه اروپایي ټولنې ته ورسوي. د بشري حقونو مدافع بنسټونو په وار وار پر بلغاریا تور لګولی دی چې د کډوالو پر وړاندې یې له تاوتریخوالي څخه کار اخلي.

څو میاشتې وړاندې د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت اعلان کړی و چې د روان میلادي کال په لومړیو دوو میاشتو کې یې شاوخوا ۱۲۸۰ بې اسناده کډوال نیولي چې له دې ډلې ۱۰۱۱ تنه یې بلغاریا کې راجستر شوي وو.

## گراندی خواهان تحقیقات بی طرفانه در زمینه واژگونی قایق شد

مهاجرنیوز




فیلیپو گراندی، کمیسار عالی ملل متحد در امور آوارگان ضمن انتقاد از سیاست اتحادیه اروپا در قبال پناهجویان، خواهان تحقیقات بی طرفانه در زمینه سانحه مرگبار واژگونی قایق در برابر سواحل یونان شد .

گراندی که چهارشنبه شام در برنامه تلویزیونی «Tagesthemen» (موضوعات روز) حضور داشت که از کانال یک رادیو و تلویزیون عامه آلمان «ای ار دی» نشر می‌شود، با اشاره به واژگونی قایق مهاجران در برابر سواحل یونان گفت: «متاسفانه برای جلوگیری از چنین فجایعی، به صورت جدی تلاش نمی‌شود.» این سانحه صدها کشته به جای گذاشته است.

بیشتر بخوانید :<u>ده‌ها مهاجر در یونان نجات یافتند و قاچاقبرشان بازداشت شد</u>

این نماینده سازمان ملل خواهان تحقیق درباره اتهامات برعلیه گارد ساحلی یونان شد. گراندی گفت: «در یونان مکانیزم هایی برای چنین تحقیقاتی وجود دارد که من امیدوارم بی طرفانه باشند. حالا مهم این است که ما در مورد دلایل این فاجعه تحقیق کنیم.» وی افزود: «بعد باید به مسائل مهاجرت مهم به صورت جدی رسیدگی شود، به طور مثال ماموریت های نجات در بحر و یا مبارزه با دلایل فرار«.

به گزارش رسانه ها، شاهدان این فاجعه به صورت متفق القول گزارش دادند که گارد ساحلی یونان، دست کم با سهل انگاری باعث واژگونی قایق ماهیگیری در شب ۱۴ جون شده است.




یونان، ۱۵ جون ۲۰۲۳، گروهی از مردان کیسه های حاوی اجساد مهاجرانی را حمل می‌کنند که پس از واژگونی قایق شان در برابر ساحل یونان جان باختند. عکس: رویترز

براساس ارزیابی ها تا ۷۵۰ پناهجو و مهاجر در این قایق ماهیگیری بودند و فقط ۱۰۴ تن از آن ها نجات داده شدند.

گراندی در این برنامه تلویزیونی دست کم بخش هایی از پلان ها برای اصلاح سیستم پناهندگی اتحادیه اروپا را تحسین کرد. او گفت که در این راه حل سازشی اقدامات مختلفی درج شده است و بسیاری از آن ها اقدامات خوبی هستند.


Website: https://morr.gov.af
Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

از نظر گراندی، این معاهده وضعیت را بهبود می بخشد، زیرا براساس آن کشورهای اروپایی موظف می‌شوند و یا دست کم باید اینگونه باشد که این مشکل را به صورت مشترک حل کنند به جای این که هرکس به تنهایی پیش برود.

بیشتر بخوانید :فرانتکس یونان را متهم کرد که با کشتی غرق شده همکاری نکرده است

در همین حال، سازمان های پناهجویان از پلان های جدید اتحادیه اروپا شدیدا انتقاد کردند.

این سازمان ها هراس دارند که با پروسه موسوم به مرز، پناهجویان مجبور شوند در کمپ هایی در شرایط بازداشت به سر ببرند .

## بازداشت یک قاچاقبر مهاجران در شمال فرانسه

مهاجرنیوز




نیروهای پولیس در پادوکاله در شمال فرانسه، چهارشنبه مردی را که مظنون به قاچاق مهاجران است بازداشت کردند. به گفته مقامات این فرد ۲۵ ساله شهروند بلغاریایی است.

نیروهای امنیتی در پادوکاله در شمال فرانسه یک مرد ۲۵ ساله بلغاریایی را که در قاچاق مهاجران دست داشته است، به روز چهارشنبه ۲۸ جون بازداشت نمودند.

مقامات این فرد را در ایستگاه شاهراه سنت لوران در ستن ورد در یک کامیون بازداشت کردند.

به گفته مقامات نمبر پلیت این وسیله نقلیه آلمانی است که توسط آن تجهیزات دریایی دیگر را پیدا کردند که توسط قاچاقبران برای عبور مهاجران از کانال مانش استفاده می‌شد. به گفته پولیس تحقیقات در مورد ادامه دارد.

بیشتر بخوانید :فرانسه: نه تن به اتهام قاچاق انسان به زندان محکوم شدند

این نخستین بار نیست که قاچاقبران در شمال فرانسه بازداشت می‌شوند.

در ۲۱ جون در شمال فرانسه، فردی به جرم قاچاق مهاجران به ۱۰ ماه زندان محکوم شد. این قاچاقبر زمانی که می‌خواست ۷ پناهجو را در یک کامیون یخچال دار به بریتانیا منتقل کند، در تونل مانش بازداشت شد.

بیشتر بخوانید :فرانسه: یک راننده کامیون به اتهام قاچاق انسان به زندان محکوم شد

بر اساس یک خبر دیگر، چهار سودانی به دلیل مشارکت در شبکه قاچاقبران به زندان محکوم شدند.

این چهار تن هفته گذشته توسط دادگاهی در سومور در غرب فرانسه به ۲۴ ماه تا ۳۰ ماه زندان محکوم شدند. متهمان که خود نیز مهاجر بودند به دلیل مشارکت در سازماندهی شبکه قاچاق مهاجران در گذرگاه کانال مانش محاکمه شدند.